# يوازې يو پيغام!



ډاکټر ناجي بن ابراهيم العرفج

Islamhouse.com

المحتوى الإسلامي

رسالة واحدة فقط - بشتو

# يوازې يو پيغام!

ډاکټر ناجی بن ابراهیم العرفج

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

## ډالی

په ربښتيا او اخلاص سره د حق موندونکو لپاره.

د بيدار عقل خاوندانو لپاره

# د لوستلو څخه مخکې پوښتنې

د دې واحد پيغام موخه څه ده؟

مقدس کتاب (انجيل) ددې په اړه څه وايي؟

قرآن د دې په اړه څه وايي؟

له هغه څخه وروسته ستا نظر څه دی؟

## د موضوع په عمق کې:

د آدم (عليه السلام) له پيدايښت نه وروسته د انساني تاريخ په اوږدو کې يو اصيل پيغام خلکو ته ورسول شو، او د دې پيغام د تذکر او سمې لارې ته د راستنولو لپاره هغه حقيقي او واحد الله؛ پيغمبران او رسولان راوليږل لکه: ادم، نوح، ابراهيم، موسی، عيسی او محمد (عليهم الصلاة و السلام) د يو پيغام د رسولو لپاره چې هغه عبارت دی له:

ربښتينی الله يو دی، او د هغه عبادت وکړئ

د دې پيغام د رسولو لپاره يې پيغمبران ولېږل:

نوح "ستاسو معبود يو الله دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ."

ابراهيم "ستاسو معبود يو الله دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ."

موسی "ستاسو معبود يو الله دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ."

عيسی "ستاسو معبود يو الله دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ."

محمد "ستاسو معبود يو الله دی، نو يوازې د هغه عبادت وکړئ"

الله تعالی خپل اولو العزم پیغمبران او رسولان او ځیني نور رالیږلي دي چې مونږ یې پیژنو او یا یې نه پیژنو له خپلو پیغمبرانو او رسولانو څخه د څو کارونو ترسره کولو لپاره، چې د هغې له جملې څخه:

1)د الهي وحي ترلاسه کول او خپلو خلکو او پیروانو ته یې رسول.

2)خلکو ته د توحید او په اخلاص سره د الله عبادت کول ښودل.

3)په قول او عمل کې د ښو بیلګه ګرځیدل، ترڅو خلک د الله په لاره کې د دوی پیروي وکړي.

4)خپلو پیروانو ته د الله څخه د ویرې او د هغه اطاعت کولو باندې لارښوونه، او د هغه د اوامرو پیروي کول.

5) خپلو پیروانو ته د دین احکام او عالي اخلاق ورزده کول.

6)ګناهکاران او هغه مشرکان چې د بتانو عبادت کوی هغوی ته لارښوونه کول.

7)خلکو ته ددې خبر ورکول چې دوی به له مرګ څخه وروسته راژوندي کیږي، او د قیامت په ورځ به خپلو اعمالو باندې ورسره حساب کیږي، نو چا چې یوازې پر الله ایمان راوړی وي او نیک عمل یې کړی وي د هغه بدله به جنت وي، او چا چې الله سره شرک کړی وي او د هغه نافرمانۍ یې کړي وي ځای به یې اور وي.

دغه پیغمبران او رسولان یوازې د یو الله لخوا پیدا شوي او لیږدول شوي دي. کاینات او هر هغه مخلوقات چې پکې دي، د پیدا کوونکي الله او د هغه په موجودیت او وحدانیت باندې ګواهي ورکوي، نو الله د کائناتو خالق دی او هغه څه چې په دې کې دي د انسانانو، حیواناتو او حشراتو څخه. او هغه د مرګ، فاني ژوند، او ابدي ژوند خالق دی.

د یهودانو، عیسویانو او مسلمانانو سپېڅلي کتابونه ټول د الله پر وجود او یووالي باندې شاهدي ورکوي.

که د حق لټوونکي په سپېڅلي کتاب او قرانکریم کې د الله مفهوم په معقولیت او اخلاص سره مطالعه کړي، نو کولی شي چې د الله هغه ځانګړي صفات چې د هغه لپاره ځانګړي شوي مشخص کړي، او نور مزعوم خدایان په هغې کې شریک نکړي. او ځینې هغه ځانګړتیاوې دا دي:

حقیقي معبود خالق دی، نه مخلوق.

حقیقي معبود یو دی او هیڅ شریک نلري، او ځو دانې ندي، نه د چا پلار دی، او نه زیږیدلی.

الله د مخلوقاتو له ادراک څخه پورته دی، نو سترګې یې په دې نړۍ کې نشي درک کولی.

الله ابدي دی، نه مري، نه منحل کیږي، او هغه په خپل هیڅ مخلوق کې نه مجسم کیږي.

الله بې نیازه دی او پر بل چا باندې تکیه ندی، د خپل مخلوق څخه بې پروا دی، هغوی ته اړتیا نلري، هغه لره پلار، مور، میرمن، زوی نشته، او هغه خوراک، څښاک او د هیچا مرستې ته اړتیا نلري. مګر د الله لخوا پیدا شوي مخلوقات ټول هغه ته اړتیا لري.

الله د عظمت، کمال او ښایست صفاتو باندې ځانګړی دی، هغه صفات چې په مخلوقاتو کې هېڅوک هم له هغه سره په هغه صفاتو کې اشتراک او مشابهت نلري، نو د هغه په څېر هېڅ څیز نشته.

موږ کولی شو په دغه معیارونو او صفاتو (او نور صفات چې یوازې الله ته ځانګړي دي) په کارولو سره د هر ډول ادعا شوي خدایانو رد وکړو.

اوس راځم پورته ذکر شوې یوې رسالې ته او تر څو د مقدس کتاب (انجیل) او قران کریم څخه ځینې نصوص رانقل کړم چې د الله وحدانیت تاییدوي. څو تر دې د مخه غواړم دغه خاطره تاسو سره شریکه کړم:

ځینې عیسویان شاید حیران شي او دا به وپوښتي چې: ښکاره خبره ده چې الله یو دی او موږ په یو معبود باور لرو، نو مسئله څه ده؟

حقیقت دا دی چې د عیسویت په اړه زما د پراخو مطالعاتو او لوستلو او د عیسویانو سره زما د ډیرو خبرو اترو له لارې، ما وموندله چې "الله" د دوی په اند (د هغه څه له مخې چې د هغوی ځینې یې تصور کوي) لاندې کسانو ته شاملیږي:

الله پلار.

الله زوی.

الله پاک روح.

ساده پوهه او سالم منطق؛ خیرونکی هڅوي چې له دغو عیسویانو څخه دا وپوښتي چې:

ستاسو ددې وینا معنا څه ده چې "الله یو دی" حال دا چې تاسو درې معبودانو ته اشاره کوئ؟

ایا الله یو دی چې په دریو کې منحل (مدغم) شوی، او که درې دي چې په یو (1 په 3 یا 3 کې 1) کې منحل (مدغم) شوي؟

برسېره پر دې، او د ځینو عیسویانو د عقیدې له مخې، دا دغه دریو معبودانو مختلفې دندې، اداري او شکلونه لري چې په لاندې ډول دي:

الله پلار = هغه خالق دی

الله زوی = هغه نجات ورکوونکی دی

الله مقدس روح = هغه مشاور دی (قوت او ځواک ورکونکی)

دا ادعا چې مسیح د الله زوی دی، یا دا چې هغه الله دی یا د الله یوه برخه ده، د تورات او انجیل له متنونو سره په ټکر کې ده، ځکه چې په هغو کې ویل شوی دي چې پدې دنیا کې الله هیڅوک نهویني:

"تاسو به هیڅکله د هغه غږ نه اورئ او د هغه مخ به هم و نه وینئ." (انجیل یوحنا 37:5)

"هیڅ چا دا ندی لیدلی او هیڅوک به یې ونشي لیدلی."

(لمړنی پیغام تیموتیس ته 16:6)

"هیڅوک ما نه ویني او بیا دې ژوندی پاتې شي."(خروج 20:33)

د دې او نورو متنونو پر اساس، زه په ټول صداقت او اخلاص سره دغه پوښتنه کوم چې مونږ څنګه کولی شو د هغو کسانو وینا چې وایي عیسی الله دی - حال دا چې د سپیڅلي کتاب متنونه دا تاییدوي چې هیچا الله نه دی لیدلی او نه یې غږ اوریدلی دی، نو مونږ د دې دواړو ویناوو تر منځه سره څنګه یو ځای کولی شو؟!

آیا یهودیانو او د عیسی کورنۍ او د هغه پیروانو عیسی مسیح ندی لیدلی (د هغوی د ځینو په باور د الله زوی،) او آیا د هغه غږ یې ندي اوریدلي؟

تورات او انجیل څنګه پر دې تینګار کوي چې هیڅوک الله نه شي لیدلی او نه یې غږ اوریدلی شي، او بیا داسې خلک پیدا کیږي او باور لري چې هغوی عیسی لیدلی او د هغه غږ یې اوریدلی، هغه الله دی او یا د الله زوی دی؟ ایا د الله په حقیقت کې کوم پټ راز شتون لري؟

تورات د دې خبرې عکس تاییدوي، چې د الله په حواله ویل شوي: "زه رب (څښتن) یم او بل معبود نشته، ما پټې خبرې نه دي کړې او نه مې خپل هدف پټ کړی دی.. زه الله یم او زه رښتیا او حق سره وینا کوم، او زه هغه څه اعلانوم چې ریښتیا دي». (اشعیاء 19:45)

نو حقیقت څه دی؟

مهرباني وکړه مخکینی متن څو ځلې ولوله او په دقت سره فکر وکړه

اوس راځی چې په ګډه په مقدس کتاب (انجیل) او قرانکریم کې د الله د حقیقت د لټولو لپاره یو سفر پیل کړو، هیله ده چې د آیتونو او متنونو له غور کولو او لوستلو وروسته به ما ته خپل اندونه او نظریات راکړئ. دا کتاب یو بې طرفه او عادلانه روایت دی.

پر دې چې بې طرفي مو رعایت کړې وي، زه به پرته له کومې تبصرې څخه دلایل وړاندې کړم، هیله لرم چې تاسو په دقت او بې طرفۍ سره ور باندې فکر وکړئ، پرته له کومو مخکنیو تصوراتو او فیصلو څخه.

په مقدس کتاب انجیل (عهد قدیم) کې ریښتینی واحد الله:

اې اسرائیل واوره: زموږ رب الله یو دی. (تثنیه 4:6)

آیا یوازني الله زمونږ لپاره د ژوند روح ندی پیدا کړی او مونږ ته یې روزي نده راکړې؟ (ملاخي 15:2 )

د دې لپاره چې تاسو پر ما ایمان راوړئ، او پوه شئ چې زه الله یم، له ما څخه مخکې هیڅ معبود نه و او له ما وروسته به هیڅ معبود نه وي. زه رب (څښتن) یم، او زما پرته بل ژغورونکی (نجات ورکوونکی) نشته. ( اشعیاء 43 :10-11)

زه اول او آخر یم، او له ما پرته بل معبود نشته. زما په شان څوک دی؟ ( اشعیاء 6:44)

ایا زه رب (څښتن) نه یم چې زما پرته بل معبود نشته؟ نیکي کوونکی او مخلص، او زما پرته بل نشته. (اشعیاء 45 : 21)

# ايا تاسو ته دا ډول نور متنونه په ياد دي؟

يو حق الله په مقدس كتاب ( العهد الجديد ) کې:

او ابدي ژوند د دې لپاره دی چې تا ته دروپېژني چې ته يوازينی ريښتينی معبود يې او عيسی مسيح چې تاسو راليږلی دی.

(انجيل يوحنا 3:17)

د خپل معبود الله عبادت وکړئ او يوازې د هغه خدمت (عبادت) وکړئ. (انجيل متی 10:4)

اې اسرائيله ( يعقوبه ) واوره: زمونږ رب (ښتن) معبود يو دی ... نو الله يو دی او له هغه پرته بل څوک نشته. (انجيل مرقس 28:12 – 33)

الله يو دی، او د الله او د خلکو ترمنځ واسطه يوه ده، او هغه انسان مسيح عيسی دی. (لومړی پيغام تيموتيس ته 2: 5)

هغه ته يو څوک راغی او ورته ويې ويل: اې زما ښاغليه نيک انسانه، زه کوم نيک کار وکړم چې ابدي ژوند ترلاسه کړم؟ هغه (عيسی) ځواب ورکړ: "تا ما ولې صالح بولې؟ هيڅوک کوم صالح نشته مګر يو، او هغه الله دی". (انجيل متی 19: 17-16 لکه څنګه چې د ملک جيمز په نسخه کې راغلي)

# ايا ته كولى شې نور متنونه ذكر كړې چې دا تاييدوي چې الله يوازې يو دى؟ (او درې ندي!)

په قرآن كې ريښتينى يو الله

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ۝٤﴾

[الإخلاص: 1-4]

(( قل هو الله أحد . الله الصمد . لم يلد ولم يولد . ولم يكن له كفواً أحد)). [(اى نبي!) ته (دوى ته) ووايه: شان دا دى چى الله يو دى. هم دا الله بې نياز (بې حاجته) دى. نه يې (څوك) زېږولى دى او نه دى (له چا) زېږول شوى دى. او د ده هيڅوك سيال (او) برابر نشته]. ( د سورت شمير 112: آية 1-4)

﴿... لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ ۝٢٥﴾ [الأنبياء: 25]

(( لا إله إلا أنا فاعبدون )) . (له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت كوئ). (د سورت شميره 21: آية 25)

﴿... إِلَّآ إِلَٰهٞ وَٰحِدٞۚ ... ۝٧٣﴾ [المائدة: 73]

(( لقد كفر الذين قالوا إن الله ثالث ثلاثة وما من إله إلا إله واحد وإن لم ينتهوا عما يقولون ليمسن الذين كفروا منهم عذاب أليم )). (خامخا يقينًا كافر شول هغه خلق چې ويې ويل:بېشكه الله له دربوو څخه دريم دى، حال دا چې هېڅ لايق د عبادت نشته مګر يو معبود، او كه چېرې دوى له هغو خبرو نه منع نشي چې دوى يې كوي، نو خامخا لازمًا به په دوى كې كافر شويو خلقو ته ډېر دردوونكى عذاب ورسېږي).

(د سورت شميره 5: آية 73)

﴿إِنَّ إِلَٰهَكُمۡ لَوَٰحِدٞ ۝٤﴾ [الصافات: 4]

(( إن إلهكم لواحد )). (چې بېشکه ستاسو معبود یقینًا یو دی). (د سورت شمیره 37: آیة 4)

﴿... أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِۚ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ٦٤﴾ [النمل: 64]

(( أإله مع الله قل هاتوا برهانكم إن كنتم صادقين)). (ایا له الله سره بل معبود شته ؟ ته (دوی ته) ووایه: تاسو خپل دلیل راوړئ، که تاسو رښتیني یئ). (د سورت شمیره 27: آیة 64)

په حقیقت کې دا پیغام (د الله وحدانیت) په قران کریم کې اصلي موضوع ده

# پای

واقعا دغه دلیلونه او په سپیڅلي کتاب او قران کریم کې په سلګونو نور دلایل پر دې ټینګار کوي چې د شک لپاره هیڅ فرصت نه پریږدي چې الله یو دی او له هغه پرته بل هیڅ معبود نشته، لکه څنګه چې مقدس کتاب (انجیل) کې وايي: " اې یعقوبه واوره: زموږ رب (څښتن) معبود یو دی ... نو الله یو دی او له هغه پرته بل څوک نشته(".انجیل مرقس 8:12 – 33)

او قرآن کریم دغه موضوع داسې بیانوي:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ [الإخلاص: 1]

(قل هو الله أحد) [(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی]. (د سورت شمېره 112: آية 1).

او مقدس کتاب (انجیل) نه یوازې دا تاییدوي چې الله یو دی ، بلکه دا هم تاییدوي چې الله یوازینی خالق او ژغورونکی دی

"د دې لپاره چې تاسو پوه شئ او په ما ایمان راوړئ، او پوه شئ چې زه، زه هغه الله یم، زما څخه مخکې هیڅ معبود نه و، او زما څخه وروسته به هیڅ معبود نه وي، زه هغه رب (څښتن) یم، او زما پرته بل ژغورونکی نشته."( اشعیاء 43 :10-11)

په دې توګه دا څرګنده شوه چې د عیسی یا د روح القدس یا نورو ته د الوهیت (معبودیت) منسوبول هیڅ سند او دلیل نلري، او هغوی ندي مګر د الله د مخلوقاتو څخه یو او هغوی لره هیڅ کوم صلاحیت نشته، هغوی معبودان ندي او نه د الله تجلیات دي او نه د هغه تجسم او تمثیل کولی شي. نو د هغه په څیر هیڅ شی نشته څرنګه چې مقدس کتاب (انجیل) او قرآن کریم کې بیان شوي دي.

نو الله – تعالی- د یهودانو د ګمراهۍ او د نورو معبودانو د عبادت له امله پر هغوی باندې قهر شو

"رب (څښتن) هغوی باندې په قهر شو."(عدد 3:25)

او موسی علیه السلام د هغوی د سرو زرو خوسکی له منځه یوړ.

له بلې خوا، د عیسویانو موحده فرقه د عذاب او ځورونې سره مخ شول؛ ځکه چې دوی د الله په وحدانیت باور درلود او د عیسی د حنیفي تعلیماتو (د الله پر وحدانیت باور لرونکي) له بدلولو څخه یې انکار وکړ، او د تثلیث بدعت یې رد کړ چې د بولس او د هغه د پیروانو لخوا څرګند شو.

د خبرو لنډیز دا چې الله ادم، نوح، ابراهیم، موسی، عیسی، محمد او ټول پیغمبران او رسولان (صلوات الله وسلامه علیهم أجمعین) رالیږلي ترڅو خلکو ته بلنه ورکړي چې په الله ایمان راوړي او یوازې د هغه – سبحانه و تعالی- عبادت وکړي، پرته له کوم شریک او برابري څخه. نو دا د هغوی یوازنی پیغام دی:

ریښتینی معبود یوازې یو دی، نو یوازې د هغه عبادت وکړئ

او څرنګه چې د پیغمبرانو او رسولانو پیغام یو دی، نو د هغوی دین هم یو دی. نو د دې پیغمبرانو او رسولانو دین څه دی؟

د دوی د رسالت (پیغام) جوهر الله ته د تسلیمېدلو پر بنسټ ولاړ دی، هغه کلمه چې په عربي ژبه کې د "اسلام" معنی او مفهوم څرګندوي.

قرانکریم دا ثابته کړې ده چې اسلام د الله د ټولو انبیاوو او رسولانو ریښتینی دین دی، او دا قرآني حقیقت په مقدس کتاب کې هم موندلی شئ (موږ به دا حقیقت په بایبل کې په راتلونکي کتاب کې تعقیب کړو، ان شاءالله ).

په پایله کې، د ژغورلو لپاره، مونږ باید دا رساله (پیغام) ترلاسه کړو او په ریښتینې او اخلاص سره وربانديې باور وکړو. خو دا کار کافي نه دی! بلکه موږ باید د الله پر ټولو پیغمبرانو او رسولانو ایمان راوړو (په دې کې پر محمد -صلی الله علیه وسلم- ایمان لرل هم شامل دي) او د هغوی لارښوونې تعقیب او عملي کړو. دا د خوشحاله ابدي ژوند لپاره لاره ده.

اې هغه څوکه چې په اخلاص سره د حق لټوونکي یې، او ژغورلو سره مینه لرئ، ته همدا اوس باید په دې موضوع کې فکر وکړې مخکې له دې چې ډېر ناوخته شي. مخکې له دې چې مرګ ناخاپه راشي! څوک پوهیږي چې کله به راځي؟

د دې مهمې او پرېکنده موضوع له فکر او غور کولو وروسته، او په معقول درک او په رښتیني زړه سره دا پرېکړه کولای شې چې الله یو دی، هېڅ

شریک نه لري، زوی نه لري، او پر هغه ایمان راوړې، او یوازې د هغه عبادت وکړې، او پر محمد ایمان ولرې چې هغه هم د نوح، ابراهیم، موسی او عیسی په څیر پیغمبر او رسول دی.

اوس ته کولی شې - که ته وغواړې - چې دا کلمه ووایې:

أشهد أن لا إله إلا الله و أشهد أن محمداً رسول الله (زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی)

دا شهادت او ګواهي ورکول د ابدي خوشحاله ژوند په لاره کې لومړی عملي ګام دی، او دا د جنت د دروازو اصلي کلي ده.

او که تا د دې لارې د تعقیبولو پریکړه وکړه، نو ته کولی شې چې د خپل مسلمان ملګري یا ګاونډي څخه د نږدې جومات یا اسلامي مرکز مرسته وغواړې، یا ما ته دا ویاړ راوبخښه چې زما سره د تلیفون یا لیک له لارې اړیکه ونیسې ( ستا پدې کار به زه ډېر خوشحاله شم).

﴿۞ قُلۡ يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ أَسۡرَفُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ لَا تَقۡنَطُواْ مِن رَّحۡمَةِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَغۡفِرُ ٱلذُّنُوبَ جَمِيعًاۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ٥٣ وَأَنِيبُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ وَأَسۡلِمُواْ لَهُۥ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ٥٤ وَٱتَّبِعُوٓاْ أَحۡسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَكُمُ ٱلۡعَذَابُ بَغۡتَةً وَأَنتُمۡ لَا تَشۡعُرُونَ ٥٥﴾

[الزمر: 53-55]

( قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ وَاتَّبِعُوا أَحْسَنَ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ) (ته (دوی) ته ووایه: ای زما هغو بنده ګانو چې په خپلو ځانونو یې زیاتی کړی دی! تاسو د الله له رحمت نه مه نااميده کېږئ، بېشکه الله ټول ګناهونه بخښي، بېشکه دغه (الله)، هم دی ښه بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی. او تاسو خپل رب ته رجوع وکړئ او هغه ته غاړه کېږدئ، مخکې له دې نه چې په تاسو عذاب راشي، بیا به تاسو سره مرسته نه کیږي. او تاسو د تر ټولو ښه حکم (قرآن) پیروي وکړئ هغه چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی مخکې لدې نه چې په تاسو عذاب راشي ناڅاپه، حال دا چې تاسو به نه پوهېږئ)قرآن الکریم – د سورت شمیره 39: آیات 53-55

# دلته بله خبره هم شته...

## وروستۍ خاطره:

د دې رسالې (پیغام) له لوستلو وروسته، په شعوري او فکري توګه، رېښتیني او جدي کسان به دا پوښتنه وکړي چې: حقیقت څه دی؟ څه غلط دي؟ څه باید وشي؟

دا او داسې نورې پوښتنې به په راتلونکو لیکنو کې مطرح کړم، ان شاءالله.

د نورو اضافي معلوماتو، پوښتنو یا وړاندیزونو لپاره، مهرباني وکړئ د لیکوال سره په لاندې پته اړیکه ونیسئ:

ص. ب. 418 – الهفوف – الأحساء 31982 المملكة العربية السعودية

abctruth@hotmail.com / info@abctruth.net

یا دفتر ..................

هر ډول تعدیل یا سمون ته ښه راغلاست وایو

# منځپانګې


**ډالۍ ........................................................................................ 4**

**د لوستلو څخه مخکې پوښتنې...................................................... 4**

د موضوع په عمق کې: ............................................................... 4

**ایا تاسو ته دا ډول نور متنونه په یاد دي؟ ........................................ 10**

**ایا ته کولی شې نور متنونه ذکر کړې چې دا تاییدوي چې الله یوازې یو دی؟ (او درې ندي!) 11**

**پای ........................................................................................ 13**

**دلته بله خبره هم شته.................................................................. 17**

وروستۍ خاطره: ........................................................................ 17

**منځپانګې ................................................................................ 18**

ننشر
الإسلام
بأكثر من 100
لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تضم تفاسير وتراجم موثوقة لمعاني القرآن الكريم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة تضم ترجمات للأحاديث النبوية وشروحها بعدة لغات

موسوعة المصطلحات الإسلامية
TerminologyEnc.com
موسوعة تضم ترجمات المصطلحات الإسلامية وشروحها بعدة لغات

منتقى
المحتوى الإسلامي
موسوعة تضم المنتقى من المحتوى الإسلامي باللغات

IslamHouse.com
مرجعية مجانية إلكترونية موثوقة للتعريف بالإسلام

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات